مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ليکوالان: ډاکټر محمد حسین پاپلي یزدي
او ډاکټر فاطمه وثوقي
پښتو ژباړه: ع. ا . نجات

۲۰۲۱/۱۰/۲۸

# لویه تلوسه

## پنځمه برخه

## د اوبو بین المللی قوانین

### د هلسینکي قوانین(۱۹۶۶) (۸ )-

(SALMAN M.A SALMAN1& The WORLD Bank, Washington DC, usa, Water Resources Development, Vol, NO. 4, 625- 640, December 2007.

- Aaron T.WOLF, Natural Resources Farum. Vil. 23#1, FEBRUARY 1999.pp. 3,30
- Stephan C. McCaffrey, Helsinki Convention: trans- boundary watercourses and international lakes , Professor at the MeGeorge , School of Law, University of the Pacific.)

په نیویارک کې د نړیوالو قوانینو ټولنې داخلي ویناو او مصوبو او په توکیو کې حقوقي بحثونو د نړیوالو (پولو آخوا- تېرېدونکو) سیندونو د حقوقي مطالعاتو د پیل په لومړیو ۱۰ کلونو کې د جامع قوانینو ترتیبول رامنځ ته کړل. د نړیوالو قوانینو ټولنې په خپله کلنۍ غونډه کې په ۱۹۶۶ کال کې هغه په تصویب ورسول. د دغو قوانینو بشپړ سرلیک عبارت و له :

**« نړیوالو له اوبو څخه ګټې اخیستو په تړاو د هلسنکۍ قوانین »**

که څه هم د هلسنکي قوانینو په سرلیک کې یوازې د نړیوالو سیندونو نوم اخیستل شوَی دَی، خو په لومړي ماده کې څرګند شوي دي چې دغه قوانین یوې نړیوالی اوبو اېستلو یا کاږلو(زهکشۍ)حوضې له اوبو څخه ګټې اخېستو ته اشاره لري. پدې قانون کې د اوبو اېستلو (زهکشي)حوضه داسې تعریف شوی ده.

« یوه جغرافیه یی سیمه دوه یا څو هیوادونه رانغاړي چې د حوضې حدود د اوبیز سیستم د اوبو بستر سره، لدې ډلې سطحي او ځمکې لاندې اوبه چې ټولې د یوه واحد مسیر پر لور هدایت کیږي، تړاو مومي. لدې امله هلسنکی قوانین ځمکېزو اوبو سره متصل ځمکې لاندې اوبو سره هم تړاو مومي ».

دا لومړی وار دی چې په بین المللی عرف کې د اوبو بین المللی قانون، له ځمکلاندې اوبو څخه د ګډ پولیزو او نړیوالو اوبو په نوم یادونه کوي. هلسنکي قوانینو په ګډه حوضه کې واقع شویو ټولو هیوادونو لپاره په یوه نړیواله اوبیزه (بستر) حوضه کې له سطحې(ځمکې پرمخ) او ځمکلاندې اوبو څخه «یوشانی او منطقي» کار اخیستنه په پام کې نیولې ده. د هلسنکۍ قانون د حوضې له ګډو اوبو څخه یوشانې او منطقې کاراخیستو لپاره ۱۱ عوامل تدوین او ترتیب کړي دي:

۱ ـ د حوضې جغرافیه په تېره بیا د هر هیواد په خاوره کې د کانالونو یا ویالو وېستلو(زهکشي) د حوضې پراخوالي.

۲ ـ د حوضې هیدرولوجي له دې ډلې په حوضه کې د هر هیواد د اوبو ونډه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۳ – هغه اوبه او هوا چې حوضه اغیزمنه کوي.

۴ – هر هیواد له خوا په تیر مهال کې د حوضې له اوبو څخه ګټه اخیستنه او د هغه هیواد اوسنۍ ګټه اخیستنه.

۵ – د هر هیواد اقتصادي او ټولنیزې اړتیاوې.

۶ – د هر هیواد وګړیزه (جمعیتی) کچه چې د حوضی له اوبو سره تړلې ده.

۷ – د لګښت اندازه چې د هر هیواد اقتصادي او ټولنیزه اړتیاوې له منځه یوسي.

۸ - نورو سرچینو ته لاسرسی (د اوبو سنبالتیا لپاره)؛

۹ - اوبو څخه په ګټه اخیستو کې؛ هر هیواد له خوا له اصراف او ضایع کولو څخه ډډه کول؛

۱۰ - د شخړې رفع کولو په خاطر هر هیواد له خوا یوه هیواد یا نورو هیوادونو ته، چې هغوی ته زیان یا کومه خساره اوړي، د خساري جبرانولو توان،

۱۱ – د اوبو هغه اندازه چې هر هیواد ورته اړتیا لري، څو نورو ته له خسارې اړولو پرته، هغه ترلاسه کړي.

په هلسنګي قانون کې هرې موضوع لپاره( ککړتیا، لیږدونه او په لامبوزنه توګه[د اوبوپرسر] د ونو او چارتراشو لیږدونه) یوه بیله برخه ځانګړې شوې ده. د هلسنګی قوانین، د ګډې حوضې اوبو څخه « یوشانی او منطقي ګټې اخستو» اصل، د یوه لاربنود اصل په عنوان یادوي. د یادولو وړ ده چې دغه قانون غیر ته د نه خسارې الزام لپاره کومه بیله ماده نلري. بلکې هغې صدمې ته اشاره کوي چې کیدَی شي په ګټې اخیستو کې، نړیوال سیند پر غاړه پراته هیواد له خوا، نورو ته ورسیږي او دغه کار یو له هغه لاملونو څخه دَی چې یوشانی(ورته) کاراخیستنه ټاکي. رود څخه تاریخي کار اخیستنه هم ګډ رود څخه د ورته ګټې اخیستو په ټاکنه کې یو عامل دَی. د هلسینګی قوانین د نړیوالو دعواو په هوارې کې، په څو مواردو کې، کارول شوي دي.

د بیلګې په توګه د آسیا – افریقا د نړیوالو حقونو سلاکارې کمیټې، په ۱۹۷۳ کال کې، د « یوشانی او منطقي کاراخیستو» اصل ته اشاره وکړه او د « یوشاني کارونې» له ۱۱ ټاکونکو لاملونو یې چې د هلسنګي په قانون کې تعریف شوي دي د اختلاف هوارولو لپاره کار واخیست. همدغه شان په ورته اقدام کې د ګډ رود د سیستمونو پروتوکول چې په ۱۹۹۲ کال کې د جنوبي افریقا پراختیا په کمیټه کې چمتو شو، په هلسینګي قانون کې د یادشویو عواملو پر اساس لیکل شوی ؤ. ځیني بین المللي تړونونه هم د هلسنګي قانون په اساس برابر شوي چې لدې ډلې کولای شو په ۱۹۹۲ کال کې د اوبو د یوه دایمي کمیسیون تاسیسولو په هکله د نامیبیا او جنوبي افریقا تړون ته اشاره وکړو. ۱۹۷۵ کال چې هند او بنګلادیش دواړو هیوادونو د ګنګ د رود په تړاو خپل اختلافونه ملګرو ملتونو سازمان ته وړاندې کړل. دواړو هیوادونو په خپله ادعا کې د هلسنګي قانون په ځینو موادو استناد کړی ؤ. سربیره پر دې، د امریکا ایالتونو ترمنځ د ګډو اوبو د مسلو د دعواو په اړه د امریکا د متحده ایالتونو د عالي محکمې ډیرې حقوقي پریکړې (تصمیمونه)، تر ډیره بریده په هلسینګي قانون کې منل شویو اصولو ته اشاره کوي. د هلسنګي قانون ۲۸ اصلي مادې لري چې هره اصلي ماده خپله په څو فرعي مادو ویشل کیږي.

**له نړیوالو (پولي اخوا- تیرېدونکو) سیندونو له بیړی چلولو پرته ګټې اخیستو کنوانسیون: ۱۹۹۷ نیویارک، ملګری ملتونه**

پوله تیرېدونکو رودونو په اړه د ملګرو ملتونو سازمان د قانون برابرولو بهیر، چې په ۱۹۷۷ کال کې په مارتوپلاتا کې د اوبو کنفرانس دایرولو له وخته پیل شوَی ؤ ۲۱ کاله دوام وکړ. اوه کاله د « نړیوالو سیندونو» تعریف(پیژاند) هیوادونو لخوا تر بحث لاندې نیول شوَی ؤ څو په ۱۹۸۴ کال کې وربانديِ هوکړه وشوه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

| | |
|---|---|
| ۱۹۵۹ کال | د قانون د متن چمتوکول، چې عمومي غونډې یوه نړیوال سیند څخه اوبو وړونکو هیوادونو کټې اخیستو لپاره د یوه نړیوال قانون د تدوینولو اهمیت غوښتنه کړې وه، له ۱۹۵۹ څخه پیل شو. |
| ۱۹۷۰ کال | عمومي غونډې د نړیوالو قوانینو له کمیسیون څخه(ILC)غوښتنه وکړه د قانون د مسودې متن برابر کړي |
| ۱۹۷۴ کال | د نړیوالو قوانینو کمیسیون په یوه لیک کې له غړو هیوادونو وغوښتل هغه پوښتنپاڼه- چې پولیزو سیندونو په اړه تنظیم شوي ده هغه بشپړ او ولیږي |
| ۱۹۷۶ کال | کمیسیون پریکړه وکړه د نړیوال سیند د مفهوم له بیاویلو پرته د پوله تیرېدونکو رودونو د یوه قانون د تدوین په اړه د هیوادونو نظر وپوښتي. په لومړی مسوده کې هم نړیوال رود څخه کوم تعریف نه ؤ شوی. |
| ۱۹۹۴ کال | له دوو لسیزو وروسته د ملګرو ملتونو سازمان د قوانینو کمیسیون، په ۳۳ مادو کې نړیوالو رودونو د بیړی چلونې پرته کټې اخیستو قانون یوه مسوده، د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډې ته وړاندې کړه. |
| ۱۹۹۷ کال | د ملګرو ملتونو سازمان عمومي غونډې د پاسنۍ مسودې په وروستي اوډني سره، «بیړی چلونې نه وړ نړیوالو سیندونو څخه د کټې اخیستو قانون کنوانسیون» قانون د ۱۹۹۷ د می په ۲۱ مه په نیویارک کې تصویب کړ. |

یوازې ۳ هیوادونو: ترکیې چین او برانډی دغه قانون ته مخالفه رایه ورکړه. همدغه راز د نړیوالو قوانینو کمیسیون په وروستۍ مسوده کې ، د څو هیوادونو ترمنځ د ځمکلاندې شریکو اوبو په هکله، یوه ماده منظورکړې وه چې تصویب شوې ده.

۱۹۹۷ کنوانسیون د هلسنکي قانون سره ورته ژبه لري. او ریپارین هیوادونو(حقابه وړونکي هیوادونه چې د یوه نړیوال سیند په اوږدو [څنډه، غاړه] کې پراته دي) غواړي چې یو بل سره اړیکې ولري او یو بل سره همکاري وکړي. ۱۹۹۷ کنوانسیون مندرجو موادو کې وړاندوینه شوې چې ریپارین هیوادونه د سیندونو په هکله اطلاعات او مالومات یو بل سره مبادله کړي او هم یو بل ته د ژوند چاپیریال له وړانوونکو اټکلیزو اغیزو او د اکو سیستم ساتنې او بحراني وضعیتونو په اړه خبر ورکړي.

## د هلسنکي د قانوني اصولو او موادو لنډیز

کنوانسیون په ۷ برخو او ۳۷ مادو کې تنظیم شوي دي. د کنوانسیون کلیدي ټکي په ۱ ، ۲ ، ۳ او ۴ برخو کې ځای پرځای شوي دي.

۱ - برخه: د نړیوالو سیندونو کلمه (watercurse) توضیح کوي چې په قانون کې ډېر اهمیت لري. ۲ ماده پدې برخه کې (watercurse) د سطحې اوبو (ځمکې مخ) او ځمکې لاندې اوبو یو سیستم ګڼي چې په یوه فیزیکي اړیکه کې یو بل سره تړلي دي او تولیزه توګه یوې معمولي مجرا کې بهیږي. دا ټکی مهم دی چې پدې ماده کې یادی شوي ځمکلاندې اوبه، هغه اوبه دي چې په هیډرولوژیکي توګه سطحې اوبو سره تړلې دي او د نړی د ځمکې لاندې اوبو ډېره برخه رانغاړي . د International watercurse اصطلاح د هغو اوبو منبع ده چې دهغې ځینې برخې په څو هیوادونو کې واقع دي.

۲ - برخه: د دې برخې ۵ ماده، هغه اصل بیانوي چې د تره لیک (تړون) اصلي نظر ښودونکی دی او په حقیقت کې د قانون اصلي ماده همدا دَه «بوشانی(ورته) او منطقي او د مشارکت ګټه اخیستنه».

پدې ماده کې هغو هیوادونو څخه چې نړیوال رود څخه په ګډه ګټه اخلي غوښتل شوي دي چې د خپل هیواد د پولې هغې برخې له اوبو څخه پداسې توګه ګټه واخلي چې سیند ( رود ) څخه د نورو هیوادونو له اوبو اخیستلو سره «ورته(یوشانی) او منطقي» وي. له سیند څخه د ګډې ګټې ټول هیوادونه لدې کار څخه د ډاډ تر لاسه کولو لپاره باید


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

اړوند لاملونه او شرایط چې په ۶ ماده کې یاد شوي دي، په پام کې ونیسي. هیوادونه باید ۵ مادې سره سم «بین المللي رودونو په مشارکت، پراختیا او ساتنه کې په ورته او منطقي توګه ګام واخلي .

۷ ماده د دی قانون یوه بله کلیدي ماده ده «غیر(بل) ته د کتو وړ نه خساري رسولو الزام(د خسارى نه اړولو اجبار)». دغه ماده ګډ پولی سیند له مشترک المنافع هیوادونو څخه غواړي چې «ټولو مناسبو اقداماتو څخه کار واخلي څو کتو وړ خساره»، له رود څخه حقابه وړونکو نورو هیوادونو ته ونه رسیږي.

۵ او ۷ ماده داسی الزام رامنځ ته کوي که چیږې د اوبېرخي خاوند کوم هیواد داسی سوچ کوي چې کوم بل هیواد ده ته ( بین المللي) ګډ رود څخه د ګټې اخیستو په اثر خساره اړولې ده باید مقابل لوري سره موضوع شریکه کړي او هغه حل او فصل (هواره) کړي. له هوارولو څخه موخه، هغې حللارې ته رسیدل دي چې دواړو هیوادونو لپاره ،سیند اوبو څخه یوشان او منطقي ګټه اخیستنه او له هغی ترلاسه شوې سود برابر شوي وي.

۳ - برخه: دغه برخه، یو بل ته د هیوادونو ژمنتیاوې په تفصیل توضیح کوي که د اقدام کوونکې هیواد اقدامات د کنوانسیون ۵ او ۷ مادو له مخې زیان اړونکی وي، زیانمن شوی هیواد کولای شي یوشانی حللارې او جوړ جاړي (تفاهم) ته رسیدو لپاره هغه سره مذاکره وکړي.

۴ - برخه: دغه برخه د نړیوال سیند د اکوسیستمونو په ساتنه او حفاظت کې مواد رانغاړي او د سیند د ککړتیا د مخنیوي، کمولو او کنټرول لپاره د سیند غاړې هیوادونو پازمنتیا اعلاموي او مدیریت سره د اړوند تعامل او مشاورې ترتیب بیانوي. که د رودخاني سیستم چې د انسان او د نورو ډولونو د ژوند لامل ګرځي، زیان ووینې نو له سیند او د هغه له اکوسیستم څخه ساتنه او د هغه د ګټې ترلاسه کولو مدیریت په پاسني قانون کې یو مهم اصل دَی.

نوربیا

**د ۱۹۹۷ کنواسیون**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ